# چرګه او هزاریا


Winny Asara

Magriet Brink

Darakhte Danesh


3

پښتو ps

چرګه او هزاريا دوه ملګري وو، خو دوی په خپلو کې سره تل سيالي کوله، يوه ورځ دوی پرېکړه وکړه، چې د فوټبال لوبه ترسره کړي تر څو وازمويي چې کوم يو ېې ښه لوبه کوي.

کله چې د فوتبال لوبغالي ته ښکته شول، چرګې په چټکۍ سره
توپ واهه، خو هزارپا له چرګې ډېر چټک و. له دې سره چرګه خفه
شوه او له هزار پا سره يې ناوړه چلند وکړه.

د لوبې پر مهال دوی هڅه کوله چې يو پر بل ګول ووهي، لومړی د چرګې نوبت شو او يو ګول يې وواهه.

. وورسته د هزارپا نوبت شو او په بریالیتوب سره یې پنځه ګوله
ووهل.

هزا یا توپ په ورو ورو د ګول خواته ور وسته او بریالۍ لوبه یې ترسره کړه.

د هزاريا له دې عمل سره چرګې ته غوصه ورغله، مښوکه يې خلاصه کړه او هزار پا يې له ستوني تير کړ.

کله چې چرګه کور ته ورسېده، په لاره کې د هزاريا له مور سره مخ شوه، ورته يي وويل "تا زما بچی نه دی ليدلی" چرګې سر ښکته واچوه او په خيل مخه ولاړه. د هزاريا مور په اندېښنه شوه چې بچی یې څه شو.

شیبه وروسته د هزارپا مور نری غږ واورېده، “مورې! مرسته راسره وکړه” مرسته وکړه د هزار پا مور شاوخوا وکتل ګوري، چې د چرګې له خېټې د هزار پا غږ راځي.

د هزاریا مور وویل، “زویه!!! خپل ځانګړی غږ وباسه”. هزاریا همداسې وکړل، او د چرګې په کولمو درد راغئ.

چرګې وټوخیده، پرنجی یې وکړ او کانګي یې وکړې.

د چرګې ټوخيدل نور هم زيات شو، او له دې سره بې له خېټې
هزارپا راووت او له مور سره يي ګډ ونې ته پورته شو.

د وخت په تېرېدو، چرګه او هزاريا سره دښمنان شول.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## چرګه او هزاریا

Winny Asara
Magriet Brink
Darakhte Danesh

CC BY